بسم الله الرحمن الرحيم

# د ترکيې اقتصاد په هټروډوکس تګلارو نه؛ د اسلام په اقتصادي نظام ژغورل کېدای شي

**خبر:**

د ترکيې د خزانې او ماليې وزير، نورالدين نبېاتي په « اقتصادي بدلون او نوې نمونې» غونډه کې د پيل وينا او د اقتصاد په اړه څرګندونې وکړې؛ دا غونډه د خزانې او ماليې وزارت په کوربه‌توب جوړه شوې وه. نبېاتي، اقتصاد په بهرنيو او نا اشنا کليمو داسې تفسير کړ: «هټروډوکسي تګلاره چې له نيوکلاسيکي اقتصادي فکر څخه اپيستېمولوژيکي بېلوالی ښيي، له چلندي او عصبي اقتصاد - چې اوس ورځ تر بلې په مطرح کېدو دی- سره يې ډېر ارزښت وموند.» (خبري اژانسونه، ۲۹/۹/۲۰۲۲)

**تبصره:**

تر کرونا وبا وروسته، د ترکيې مالي کړکيچ او د ليرې د ارزښت ټيټېدلو ټول خلک اغيزمن کړل او دا چې د يادو ستونزو د حل لپاره رېښتيني ګامونه نه دي پورته شوي؛ وضعيت ورځ تر بلې په خرابېدو دی. دولتي چارواکي له يوې خوا ځانونه مکلف ګڼي چې د راتلونکو ټاکنو لپاره د ځان په ګټه فضا جوړه کړي او يو څه ووايي او له بلې خوا هڅه کوي چې د ځينو نوښتونو لکه «د ترکيې اقتصادي ماډل» په يادولو سره د ستونزو اصلي سرچينه پټه کړي. د خزانې او ماليې د وزير هره جمله بايد شفاهي وژباړل شي؛ حکومتي چارواکي داسې خبرې کوي لکه دوی چې له خلکو بېل لوی شوي وي.

نورالدين نبېاتي تېرکال په يوه تلويزيوني خپرونه کې د نوي اقتصادي سيستم په اړه د خلکو د يوې پوښتنې په ځواب کې په ملنډو ويل؛ «زما سترګو ته کتلی شئ؟ زما په سترګو کې اقتصاد ځلېږي». دا او په « اقتصادي بدلون او نوې نمونې» غونډه کې د ده نا اشنا او پردۍ خبرې؛ د خلکو په منځ کې د بحث وړ موضوع شوه.

د نبېاتي په خبرو کې د هټرودوکس او اورتودوکس کليمو کارول ښيي چې څه ته چې دوی «د ترکيې اقتصادي موډل» وايي، په اصل کې د پانګوالۍ ترکي نخسه ده؛ ځکه هر علم يوه ايډيالوژيکه منځپانګه لري او هغه مفاهيم چې نبېاتي وړاندې کړل؛ له پانګوالې ايډيالوژۍ يې سرچينه اخيستې وه. سربېره پر دې، له هغه وخته چې په ترکيه کې جمهوريت حاکم شوی، د دغه هېواد اقتصادي سياستونه او پاليسۍ د پانګوالې ايډيالوژۍ پر بنسټ دي.

خبره دا ده چې په کوم اقتصادي نظام کې چې کورني اسعار يې په امريکايي ډالرو پورې تړلي وي او سودي بانکونه يې د اقتصاد د ماشين په توګه کار کوي؛ د خلکو مزدوري د مالياتو او فرېب له لارې پکې استثمارېږي او قوانين يې د پانګوال نظام پر بنسټ ټاکل کيږي؛ دا نظام که هر څه وبولئ او هر ډول جامې ور واغوندئ، بدلېږي نه، بکلې همغه پانګوال نظام دی.

هغه څه چې د ترکيې اقتصاد له نورو اقتصادونو بېلوي او نېباتي غوښتل چې د «هېټروډکس» د مفهوم له لارې يې تشريح کړي، د دغه هېواد د حکامو او مرکزي بانک لخوا په قصدي توګه د ليرې د ارزښت کمول و. معمولاً په نړۍ کې د مرکزي بانک دنده د ګټې له لارې د يوه هېواد اسعارو ته ارزښت ورکول دي، خو په ترکيه کې برعکس پاليسي پلې کيږي.

دحکومت د فرضيې پر بنسټ د نوي اقتصادي ماډل په پلي کېدو سره به صادرات تر وارداتو زيات شي، بهرنۍ سوداګري او کورنۍ توليد به وده وکړي او په دې توګه به د انفلاسيون مخه ونيول شي. په هرصورت، د ۲۰۲۱ کال له سپټمبر راهيسې چې مرکزي بانک د سود کچه راکمه کړې، انفلاسيون څو برابره زيات شوی او د اسعارو د تبادلې نرخ هم دوامدار لوړېږي. که څه هم ولسمشر اردوغان هڅه کوي چې دا پاليسي توجيه کړي او ظاهراً د سود مخالفت کوي او وايي چې د اوسني انفلاسيون لامل سود دی. په حقيقت کې د دغې پاليسۍ ګټه لابې ګرانو ته رسيږي او تاوان يې د ترکيې خلکو ته؛ ځکه کله چې موږ اقتصادي شاخصونو ته ګورو؛ له هغه څه سره چې اردوغان يې وايي بشپړ توپير لري. همدارنګه د ۲۰۲۲ کال په لومړيو کې ۶ مياشتو کې چې نوی ماډل - چې ويل کيږي له سود سره مبارزه کوي- پلی شوی، د بانکونو د ګټې کچه ۴۰۰ سلنه زياته شوې. هغه نور منفي معلومات به نه يادوو چې د خلکو عايدات يې زيانمن کړي.

نو يوازينۍ خبره چې د اقتصاد په اړه ويل کېدای شي دا ده چې پانګوالي لامل او کړکېچونه يې پايله ده. په ورته وخت کې د هېټروډوکس مفکوره هم دا ستونزه نه شي حلولی، ځکه دا هم د پانګوال نظام يوه برخه ده. بنسټيزه حللاره د اسلام اقتصادي نظام دی چې د ترکيې خلک ايمان پرې لري؛ د اسلام په اقتصادي نظام کې هرډول سودي معامله منع ده او سودي بانکونو ته د فعاليت اجازه نه ورکول کيږي. د اسلام په اقتصادي نظام کې د پيسو سيستم بانکنوټونه نه دي، چې د انفلاسيون سبب کېږي، بلکې د سرو زرو معيار دی چې مناسب ارزښت لري.

د اسلام په اقتصادي نظام کې د ملکيتونو ډولونه محدود دي، شرکتونه عامه شتمني نه شي لوټولی او شتمنی به د خلکو ترمنځ عادلانه وېشل کيږي. که لنډ ووايو، د اسلام اقتصادي نظام د عدالت او پرمختګ يوازينی ضامن دی؛ د اسلام ۱۴۰۰ کلن تاريخ د دې خبرې شاهدي ورکوي. نو د مسلمانانو په توګه مو دا مکلفيت دی چې د نبوت پر منهج راشده خلافت – چې د اسلام د اقتصادي او نورو نظامونو پلی کوونکی دی- د تاسيس لپاره ګډ کار وکړو.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

محمد امين يلدرم

ژباړه: محمد هارون رؤفي